ننـــــــــــګرهار پوهنتون
پوهنیار فیاض ګل مظلوم یار

## په سیمه کې د افغانستان جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي موقعیت


### لنډیز

افغانستان د سیاسي جغرافیې دستر توب یو اوږد تاریخ لري. دا د ختیز او لویدیز ترمنځ او هم د جنوبي او مرکزي اسیا ترمنځ د سوداګرۍ او کوچېدنو لرغونې لاره ګڼل شوې.

د افغانستان په محور د سیمه ییزو نښلوونکو پروژو پرمختګ کولای شو د استانبول پروسې او د ریګا اقتصادي ډیپلوماسۍ چوکاټ لاسته راوړنه وبولو. له هغې ډلې د افغانستان، ایران او هند ترمنځ د چابهار بندر ، د لاجوردو لارې، د دریوو هېوادونو ترکمنستان، افغانستان او تاجکستان ترمنځ د رېل پټلۍ پروژې ( د آتامراد آقینه رېل پټلۍ پرانسته )د ابتدایي مرحلې بشپړېدل، تاپي، کاسا زر، د وربښمو دهلېز او د ۵۰۰ کیلو واټه بربښنا لېږ،د تاپي پروژې او نورو سیمه ییزو نښلوونکو پروژو نومونه واخلو. همدارنګه کولای شوو وو ایو افغانستان د اسیا د نښلولو نقطه چې جنوبي اسیا د مرکزي اسیا ، ختیزه اسیا د لویدیزې اسیا سره او په ټوله کې د اسیا ډیرې هېوادونه د اروپا سره نښلوي. دا ټول هغه څه دي چې په سیمه کې د افغانستان جیوپولیټیکي او جیواکونومکي ارزښت او موقعیت روښانه کوي. دغه علمي مقاله کتابتوني بڼه لري چې په کې د مختلفو علمي مقالو ، کتابونو او د انټرنیټ د بېلابېلو سایټونو څخه استفاده شوې. په دې علمي مقاله کې هڅه شوې ترڅو وپوهیږو افغانستان د خپل ځانګړي جغرافیایي موقعیت څخه څنګه په سمه توګه ګټه پورته کولی شي او همدا شان څنګه کولی شي د اسیا د څلورلارې په توګه خپل جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي وزن معلوم او له دې موقف څخه بشپړه ګټه واخلي. د مقالې په پای کې دې نتیجې ته رسیږو چې که چېرې د افغانستان جغرافیایي،جیوپولیټیکي او جیواکونومیکي موقعیتونو څخه په سمه توګه ګټه پورته شي، لرې نده چې افغانستان دې د سیمې او اسیا د اقتصادي څلورلارې مقام خپل کړي.


**کلیدي کلیمې:** مرکزي اسیا، ترانزیت، جیوپولیټیک او جیواکونومیک

Ketabton.com

### سریزه

پیاوړی اقتصاد ، په خپلو پښو ولاړه ټولنه، ټولنیز ثبات، ملي پیاوړی حاکمیت، د ارضي تمامیت ډاډمنتوب، ملي او نړیوال لوړ پرستیژ ، هغه پیاوړي دریځونه دي چې ویښو ملتونو د اساسي موخو په توګه ځان ته ټاکلي دي. نن ورځ اقتصاد او تجارتي اړیکې یواځې د اړتیاوو او فزیولوژیکي ضرورتونو بشپړ کول نه، بلکې تر دې اوچت اهداف، یعنې هوساینه هم لري.

د هېواد د پرمختګ لپاره د ترانزیت د زیربنا پانګې ته لکه: لوی لارې، سرکونه، د ریل پټلیو ، هوایي کربښو او هوایي ډګرونو ته چې دنورو سکتورونو ترڅنګ د انجنیرۍ له مسلکونو سره تړاو لري، اړتیا شته. د پورته ترانزیتي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مواصلاتي زیربناوو له علمي پرمختګ څخه پرته د یو هېواد ښېرازي او پرمختیا امکان نلري. همدارنګه، داسې زیربناوې رامنځته کول په هېواد کې ثبات، خورا زیاتې پانګونې، کارپوهانو، مدیرانو، ښې دولتي پلانګذارۍ او نورو ته اړتیا لري. که په یو هېواد کې منظمه رهبري او مدیریت پرمخ لاړ شي نو د هغه هېواد په اقتصادي وده کې زیات رول لري http://www.taand.com/archives/51317 د میلاد نه څلور پیړۍ د مخه د سکندر مقدوني په وخت کې د هند او یونان ترمنځ سوداګري د افغانستان له لارې تر سره کیده، افغانستان د یونانیانو او باختري شاهانو په وخت کې د سوداګرۍ په برخه کې ځانګړې ارزښت درلود. بلخ د وریښمو او مساله جاتو د لارو په مرکز کې پروت وو او دغه ښار د چینایي او هندي توکو د تبادلې مرکز وو. همدارنګه د وریښمو لار چې ختیز یې د لویدیز سره نښلاوه، له افغانستان څخه تیریده چې هغه وخت وریښمو ډېر ارزښت درلود او له همدې لارې د هېواد تولیدات، ختیز او لویدیز بازارونو ته لېږدیدل. د افغانستان دغه سوداګریز ارزښت د چنګیز یرغل، په اروپا کې د وریښمو د چینجو د رزونې دود، همدارنګه په اروپا کې د سمندري لارو موندنو او د عصري وسایلو رامنځته کېدو اغیزمن کړ(نیازی،۱۳۹۷:م م ۵-۴). افغانستان حق لري چې له اوږدې مودې جګړې وروسته یوه انساني مرفه ټولنه ولري او خپل طبیعي سرچینې، اقتصادي امکانات، غوره جغرافیایي موقعیت او هغه پوتانسیل چې لري یې، د خپل ولس په ګټه وکاروي. په دې لړ کې یوه لاره داده چې د افغانستان د جیوپولیټیک او جیواکونومیک موقعیت څخه غوره ګټه وشي او له انزوا څخه ووځي. ددې موخې لپاره باید د منطقوي سازمانونو، منطقوی اقتصاد، نړیوالو اوبو ته دلار موندنې، په بهرني تجارت کې د لوی کسر د له منځه وړلو او له راز راز سیاسي فشارونو د خلاصون لپاره لارې ولټول شي. په دې کې یو هم د تجارت او اقتصادي مبادلاتو لپاره د امکاناتو لټول دي (فرهادي، ۲۰۰۱:م ۴).

## موخې

- په سیمه کې د افغانستان د جغرافیایي موقعیت ارزښت پېژندل.
- د اسیا د مختلفو هېوادونو په نښلولو کې د افغانستان نقش روښانه کول.
- د هغو پروژو او هوکړه لیکونو پېژندل چې په سیمه کې د افغانستان د جیوپولیټیک او جیواکونومیک عواملو د پرمختګ لامل ګرځي.

## پوښتنې

په سیمه کې د افغانستان جغرافیایي موقعیت او ارزښت روښانه کړئ؟

د اسیایي هېوادونو په نښلولو کې د افغانستان نقش څه شی دی؟

د سیمې د هېوادونو سره د افغانستان د مهمو پروژو د لاسلیکېدو له کبله د هېواد مهمې لاسته راوړنې کومې وي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مواد او کړنلاره

ددې علمي مقالې دلیکنې او څېړنې بنه ترزیاته بریده کتابتوني ده، چې په اړه یې گټور معلومات له کره سرچینو، معتبرو او نویو اثارو او انترنیت پاڼو څخه راټول او د مقالې په مناسبو ځایونواوبیلا بیلو پراگرافونو کې په سیستماتیک ډول ځای په ځای شوي دي.

## د موضوع ارزښت

څرنگه چې افغانستان په وچه کې راگېر هېواد دی نو په دې اساس د هغو عواملو پېژندل ترټو افغانستان وکولای شي د سیمې له هېوادونو سره خپلې تجارتي اړیکې ولري. همدارنگه په سیمه کې د افغانستان جیوپولیټیک او جیواکونومیک ارزښت محصلینو او مینوالو ته ورپېژندل ، او ددې موضوع گانو په ارزښت باندې یې پوهول.

## محدودیتونه

ددې موضوع دڅېړنې په بهیر کې ځینې ستونزې اومحدودیتونوسره مخامخ شوی یم لکه : د سیمې څخه لېدنه ،دنوي اومعتبروکتابونوکمښت، په ننگرهارپوهنتون کې دجغرافیې اړوندکتابونو، امکاناتو او دځینونورو اسانتیاو ، نه شتون داهغه محدودیتونه دي چې یادول یې اړین بریښي.

## د لویو لارو ارزښت

له تاریخي پېښو او د بشري تمدن د ودې له بهیر څخه داسې پایله ترلاسه کېږي چې د مواصلاتي کرښو او لویو ترانسپورتي لارو وده او پراختیا د زېربنا په توگه د فرهنگ، سوداگرۍ، اقتصاد، د ټولنو، قبیلو او پرگنو د گډېدو، د ښارونو د پیوستون، صنعتي مرکزونو، مارکیټونو د سیاسي، کلتوري او اداري حالت په پرمختگ کې ځانگړی ځای لري (عارض،۱۳۸۰: م۴). لارې او سړکونه د بشري ټولنو او هېوادونو ترمنځ د پیوستون او اړیکو هغه وسیله ده چې نه یوازې د سوداگرۍ لپاره یې موثریت څرگند دی بلکې د لرغونو زمانو راهیسې یې د تمدونونو، کلتورونو او بېلابېلو تهذیبونو د پېژندلو او وړلو راوړلو په چارو کې ټاکوونکی او گټور رول لوبولی دی (باوري، :م۱).

د ژوند د سطحې لوړتیا، د صنایعو او ماشین آلاتو وده، د طبیعي او کاني زېرمو څخه زیاته گټه اخستنه، د روغتیایي او عرفاني چوپړ تامین، د لومړنیو کرنیزو موادو ترویج، لېږد او دهغو وده او پراختیا او په پای کې یوې بسیا، لوړې او متحدې ټولنې جوړول د سیاسي او کلتوري پلوه په سیده توگه د مواصلاتي او ترانسپورتي سکټور په ودې پورې اړه لري (عارض،۱۳۸۰:م م. **۴-۵**).

## **د افغانستان دلویو لارو تاریخچه**

یو انگریزي متل دی چې (The cultures goes by road) یانې کلچر او پرمختگ له سړک سره ځي. په حقیقت کې دیوه هېواد د پرمختگ لپاره مواصلاتي کرښې د اقتصادي ودې بنسټ گڼل کیږي (ځل،۱۳۹۰:م. **۵۱**).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلويو لارو جوړيدل تل د طبيعي او اقتصادي حالت تابع وي. په افغانستان کې د لويو لارو تاريخچه هم د افغانستان له لرغوني فرهنګ او ثقافت سره سيده اړيکې لري. لکه څنګه چې د بلخ کرنيز او فرهنګي مدنيت له ميلاد څخه (۳۵۰۰) کاله وړاندې پلې لارې، د اوښانو او اسونو لارې او کاروانونه هم په همغه لرغوني تاريخ پورې اړه پيدا کوي، ځکه انسان د پوهې او فرهنګ په تر لاسه کولو سره ، د ځمکې پرمخ خپلې واکمنۍ او تسلط په ځنګ کې خپل اداري، سياسي، ټولنيز او تجارتي پولې په غوره شان ټاکي او تثبيتوي. په لرغوني باختر کې د کرنيز مدنيت د رڼا په خپريدو سره، د وخت افغانستان په شمال کې له ترکستان ، په شمال ختيز کې د مغولو له امپراطورۍ سره، په جنوب کې د هند له نيمې وچې او په لويديز کې د فارس له لرغوني امپراطورۍ سره تل په تجارتي راشه درشه او د لومړنيو توکو په لېږدولو بوخت وو. له بل پلوه له ګاونډيو هېوادو څخه زيات تجارتي لارې د افغانستان په لورې راخلاصې وې او دا هم ځکه چې نه يواځې په افغانستان کې يو فرهنګي مرکزيت موجود وو، بلکې په ګوډ ګوډ کې يې فرهنګي، مذهبي، سوداګري، د قيمتي ډبرو او فلزاتو توليدات تر سترګو کېدل. د بشري اړتيا او د ګاونډيو هېوادو د تجارتي مارکيټونو د غوښتنې له امله ، د تجارت او تګ راتګ لويو او وړو لارو ته اړتيا ليدل کېدله. دغه فرهنګي غنا وه چې د هېواد مادي او معنوي بنسټ يې جوړاوه (عارض،۱۳۸۰:م. ۱۱). په اوسني وخت کې د انسان د ژوندانه په ټولو اړخونو کې بدلونونه راغلي، مواصلاتي کرښو په هېوادونو کې د اقتصاد او فرهنګ بنسټ تشکيل کړ. په افغانستان کې هم د پليو لارې، سړکونو او په حيواناتو باندې وړنه راوړنه په موټرو بدله شوه(تڼيوال،۱۳۹۱:م. ۳۷۷).

له دويمې نړيوالې جګړې وروسته د سړکونو جوړېدو ته پاملرنه وشوه، د کورنۍ جګړې نه وړاندې په افغانستان کې تقريبا(۳۸۰۰۰) کيلو متره د ګټې اخيستو وړ سړکونه او (۲۵۰۰) کيلو متره داسې سړکونه موجود و، چې د کال په ځينو موسمونو کې به ورڅخه ګټه اخيستل کېده (ځل،۱۳۹۰:م. ۵۱). که چېرې ښه ځير شو د افغانستان سياسي او اقتصادي وده په اوسنيو شرايطو کې له مواصلاتي ودې څخه بې اغيزې نشې پاتې کيدای. افغانستان د خپل غوره جغرافيايي موقعيت او تاريخي سوابقو له مخې د مواصلاتو په برخه کې لږ څه وروسته په صنعتي کېدو پيل وکړ او له دې مادي زېربناو څخه يې ناوخته ګټه واخيسته چې اصلي لامل يې د انګريز او روسې لاس وهنه وه، چې د بېلتون اچونې او تيرې د سياست له امله يې افغانان داسې مصروف وساتل چې و يې نشو کولای له خپل مولده ځواک نه سمه ګټه پورته کړې (عارض،۱۳۸۰:م. ۸). بايد ووايو چې په اوسني وخت کې افغانستان د خپل جيوپوليټيک ،جيواستراتژيک او جيو اکونوميک موقف په راڅرګندولو سره د نړۍ پام ځانته راړولی دی چې په اوس وخت کې د نړۍ او په ځانګړي توګه د اسيا د مختلفو هېوادونو د نښلولو يواځنۍ کړۍ ګڼل کيږي. ترانزيټ او ترانسپور ټ د نړيوالو اقتصادي ګټو يو ځای کولو له لارې د نړۍ او په ځانګړې توګه د سيمې ترمنځ د تقابل له ميدان څخه د تعامل نقطې ته د افغانستان د سياست بدلول او له يو بل سره د سيمې هېوادونو په نښلولو کې د افغانستان د جيواکونوميک ظرفيت پېژندنه د حکومت له لومړيتوبونو څخه ګڼل کېږي. افغانستان د سيمې د مرکزي او ترانزيټي کليدي ټکي په توګه د خپل رول د تحقق لپاره لوی ګامونه پورته کړي او په دې لاره کې يې ځلانده پرمختګونه هم لرلي دي. افغانستان د ترانزيټ په برخه کې توانېدلی چې له بېلا بېلو هېوادونو سره ګڼ هوايي دهلېزونه برابر کړي او له بېلابېلو هېوادونو سره د خپلې سوداګرۍ کچه پراخه کړي او ان په ځمکني ترانزيټ سربېره د هېواد په تاريخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلومړي ځل لپاره له هند سره هم مهاله د سوداګرۍ هوايي دهلېز پرانیست او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. دترانزيټي لګښت کچې راټيټيدل، هدفي سیمو ته دموسمي صادراتو پر وخت رسول، د اړتيا وړ صادراتي او وارداتي محصولاتو دامنيت ټينګول او... بېلابېلو ترانزيټي او ترانسپورټي دهلېزونو ته د لاس رسي پايلې دي. داور ګاډي پټلۍ جوړول او پراختیا، دترانزيټي سړکونو پراختيا، په دې برخه کې د حقوقي او قانوني تشو ډکول، د هوايي ډګرونو پراختيا، په لويو سازمانونو لکه TIR[1] کې غړيتوب، د ترانزيټ په سکتور کې د افغانستان د لاسته راوړنو بله برخه بلل کېږي. د سیمې او ګاونډيو هېوادونو سره د دوه اړخيزو او څو اړخيزو هوکړه ليکونو لاسليک، له فساد سره مبارزه او د کورني او بهرني ترانزيټ او ترانسپورټ بهير چټکتيا او اسانتيا او... په دې برخه کې د حکومت د فعاليتونو بله برخه ده (د ستراتيژيکو اړيکو او رسنيو معاونيت،۱۳۹۲:م ۱۲۲)

۱: جدول: د ګاونډيو هېوادونو سره د افغانستان مهم بندرونه

| د بندر نوم | ولایت | ګاونډی هېواد | د بندر نوم | ولایت | ګاونډی هېواد |
|---|---|---|---|---|---|
| اسلام قلعه | هرات | ایران | شیرخان | کندز | تاجکستان |
| ابونصر فراهی | فراه | ایران | تورخم | ننګرهار | پاکستان |
| پل ابریشم | نیمروز | ایران | غلام خان | خوست | پاکستان |
| تورغونډۍ | هرات | ترکمنستان | سپین بولدک | قندهار | پاکستان |
| آقینه | فاریاب | ترکمنستان | حیرتان | بلخ | ازبکستان |

## په سیمه کې د افغانستان جیو اکونومیکي او ترانزيټي ارزښت


افغانستان په داسې یوه سیمه کې موقعیت لري چې کولای شي په سیاسي، امنيتي، اقتصادي، فرهنګي، جيوپوليټيکي او جيو اکونوميکي لحاظ د اسيا څو مهمې نقطې لکه: مرکزي اسيا، منځنی ختيز او جنوبي اسيا سره ونښلوي. د اسيا ترټولو مهمه سيمه منځنۍ اسيا ده، ولې په اوس وخت کې هند او پاکستان غواړي د افغانستان له لارې په جنوبي اسيا کې خپل منځي رقابت وکړي. دبل لورې د هندوستان لپاره افغانستان، د مرکزي اسيا او منځنی ختيز ته د داخلېدو دراوزه ګڼل کيږي. هندوستان د افغانستان په همکارۍ کولای شي منځني ختيز او مرکزي اسيا ته لار پيدا او هم کولای شي چې په اقتصادي لحاظ په دغه سیمه کې د پاکستاني او چينايي تجارت مخه ونيسي. (وثوقی و همکاران،۱۳۹۳:م ۱).

[1] Transport International par la Route

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څه هم د تاریخ په اوږدو کې افغانستان د غوره جغرافیایي موقعیت درلودونکی وو. مګر په هره دوره کې یې ارزښت تفاوت درلود. په لرغوني وختونو کې د افغانستان د موقعیت ارزښت د وریښمو لارې د تېرېدو له کبله وو ولې په اوس وخت کې دا ارزښت د مرکزي اسیا څخه د ګاز پیپ لاین او نفتو لېږدول د جنوب او ختیز په لور ځانګړې شوی دی. پرته له شکه لویدیز د طالبانو د واکمنۍ څخه مخکې او وروسته پدې قانع وو چې د ګازو او نفتو انتقال د مرکزي اسیا څخه د جنوبي اسیا او د نړۍ ازادو اوبو ته د لېږدولو لپاره افغانستان ځانګړی موقعیت لري. دغه لوري عملا ایران د مذاکراتو له هغه میز څخه د ختیز او جنوبي اسیا په لور د انرژي انتقال دی، لرې کوي. د بل لورې افغانستان په داسې یوه سیمه کې قرار لري چې د نړۍ ۲۰ سلنه انرژی تامینوي (پیشګاهي فرد ،رحیمي ،۱۳۸۷:م. ۱۲۵). د مرکزي آسیا هېوادونو سره د افغانستان تجارتي اړیکې مخ په ډېریدو دي دا ځکه چې افغانستان د مرکزي اسیا او جنوبي آسیا د هېوادونو ښېلولو سره په ثبوت ورسوله چې له افغانستان پرته، ددوی اړیکې ناممکنې دي (نادري او همکاران یې،۱۳۹۲:م. ۱۸).




۱.شکل: د اسیا په لویه وچه کې د مرکزي اسیا ،جنوبي اسیا ،ختیزې آسیا او دمنځني ختیځ ترمنځ په ښېلولو کې د افغانستان نقش

## د مرکزي اسیا سره د افغانستان د ترلو فرصتونه

افغانستان په شمال کې د تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان سره ګډې پولې لري. افغانستان د دغه هېوادونو په مرسته کولای شي د نورو مرکزي اسیا هېوادونو ته لار پیدا کړي. که څه هم دغه سیمه د یو بل سره ګډې ځانګړنې لري چې په ۱۸ پیړۍ کې د روسیې او بریتانیا د استعماري رقابت له امله دیو بل څخه بیل شول (وثوقي و همکاران ۱۳۹۳:م. ۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مرکزي اسيا هېوادونو سره د افغانستان تړل د امریکا یوه اوږد مهاله استراتژي وه، چې ددې طرحې په واسطه امريکا متحده ایالاتو غوښتل د افغانستان له لارې مرکزي اسيا کې خپل نفوذ زيات کړي. ترڅو په افغانستان کې ددوی نفوذ وکولای شي چې دخپلو ګټو لپاره د مرکزي اسيا هېوادونو ته کوم تهدید ونه اوسي. د بل لورې د مرکزي اسيا هېوادونه په دې اساس هم له افغانستان سره د اړیکو په پراخولو کې دي چې۱: په افغانستان کې د با ثباته دولت په رامنځ ته کېدو ددې هېوادونو امنیت خوندي پاتې کيږي. ۲:مرکزي اسيا په افغانستان کې بې شمېره اقتصادي ګټې لري چې یو د افغانستان له لارې د اسیاد نورو سیمو سره تړل دي (وثوقی و همکاران، ۱۳۹۳:م. ۱۰).

که څه هم افغانستان په وچه کې راګېر هېواد دی خو د جغرافيي موقعيت ، طبيعي شرايطو او فرهنګي ارزښتونو ته په کتلو سره د آسیا او نړۍ د تمدن زانګو ګڼل کيږي. افغانستان اسیایي هېوادونو لپاره په نړیوالو اړیکو کې د څلور لارې حیثیت لري. دا ځکه افغانستان د ځانګړي موقعیت په درلودلو سره دآسیا او نړۍ په نښلولو کې د یو پل بڼه غوره کړې، چې منځنۍ او شمالي اسيا د جنوبي آسیا سره او ختیزه اسیا د لویدیزې اسیا سره نښلوي (عظيمي،۱۳۹۰:م. ۲۳). همدا رنګه د چابهار بندر، هوایي دهلیزونو ،د لاجوردو لار اود اوسپنې د کرښو په واسطه د نړۍ او سیمې هېوادونه سره نښلوي چې ددغه هېوادونو لپاره د اړیکو تر ټولو لنډه لاره ګڼل کيږي (نادري او همکاران یې،۱۳۹۲:م. ۱۸).

د افغانستان د جغرافيايي موقعيت له مخې، د اسیا د لويې وچې په مرکز کې د تاريخ د ډېرو پخوا زمانو څخه د ختيز او لويديز ترمنځ خپلې سوداګريزې اړيکې ساتلې دي. ددغې سوداګريزې او فرهنګي اړيکو ادامه د وګړو په ژوندانه کې د اقتصاد او فرهنګ له مخې ستر رول لوبولی دی. د مېلاد نه وړاندې په څلورمه پېړۍ کې د سکندر د لښکر کشۍ په پايله کې د یونان او هند ترمنځ سوداګريزې اړيکې د افغانستان له لارې ترسره کېدې او وروسته دا اړيکې لاپسې ټينګې شوې. د مېلاد نه دوه پېړۍ وړاندې چې د یونان او باختري شاهانو د سلطنت دورې سره سمون لري دغه هېواد په سوداګريزو چارو او مراوداتو کې ځانګړی مقام درلود. بلخ د خپل غوره موقعيت په درلودو ددغو لارو د یوځای کېدو مرکز وو. د وریښمو مهمې لارې له دې ځایه تېریده. وریښمو او اوهم د وریښمو تاریخي لارې زيات ارزښت درلود. راکړه ورکړه یې په ټولو هېوادونو کې ترسره کېدله. د شمال سوداګريز مالونه به جنوب او د جنوب مالونه د شمال په لور، همدا رنګه د ختيز مالونه به لويديزو هېوادونو ته له همدې لارې تېريدل (تنهیوال،۱۳۹۱:م. ۳۷۲). په دې توګه جنوبي ښارونو پیوستون امکان وموند او د ټولو ښارونو ترمنځ د پيوستون کړۍ رامنځ ته شوه(عارض،۱۳۸۰:م. ۹). په اوس وخت کې د افغانستان د همکارۍ څخه پرته د جنوبي او مرکزي اسيا هېوادونه دیو بل له امکاناتو څخه ګټه نشي پورته کولی. افغانستان پدې وتوانيد چې په سیمه کې خپل ځانګړی جیواکونومیک ارزښت په ډاګه کړي. په اوسني وخت کې د سیمې ټول هېوادونه پدې قانع دي چې د افغانستان له ګډون پرته په اسیا کې د هيڅ هېواد تجارتي اړيکې پرمختګ نشي کولی(رياست مطبوعات/ معاونيت ارتباط استراتيژيک و رسانه ها ،۱۳۹۷:م م. ۴۹-۵۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افغانستان او د سيمې اقتصاد

افغانستان له جغرافيايي اړخه په سيمه کې ځانګړې ارزښت لرى. افغانستان د منځنۍ آسيا، منځنۍ ختيز او د جنوبي آسيا تر منځ د يوه پله حيثيت لرى او د سيمې د لويو او نويو اقتصادونو (هندوستان او چين) لپاره نړيوالو بازارونو ته د لارې په توګه ارزښت لرى. په سيمه کې د تاريخ په اوږدو کې داسې مدنيت نه و او نشته چې پرته د افغانستان له ګډون څخه رامنځته شوى وي. د تجارت لرغوني مهمه لاره (د وريښمو لار) له افغانستان څخه تيريدله او په معاصر وخت کې يې يو ځل بيا خپل مهم ستراتيژيک ارزښت بيا وموند. په سيمه کې د نوي وضعيت راڅرګنديدو دا وښوده چې په سيمه کې، منطقه يې اقتصاد ته اړتيا ده. د لاجوردو او وريښمو لاره بايد بيا نوې شي . د روسيې، چين او هندوستان ورځ په ورځ پياوړى کيدونکى اقتصاد په منطقه کې يو نوى وضعيت رامنځته کړى دى چې د افغانستان همکارۍ ته اړتيا لري. افغانستان همدا اوس د سيمې يو شمېر منطقه يي جوړښتونو لکه ECO[2], SCO[3] SAARC[4] ,کې فعال ګډون لرى. په دې وروستيو کې د چابهار د بندر د پرانستلو ترځنګ، د لاجوردو لار هم پرانيستل شوه. د مالونو تبادله، ترانزيت او بهرنۍ سوداګرۍ د نن ورځې د اقتصاد يو مهم بحث دى. زياترو هېوادونو خپل اقتصاد د ترانزيت او سوداګرۍ له لارې غوره کړى دى. له نيکه مرغه افغانستان د خپل جغرافيايي موقعيت له پلوه په يوه ډيرغوره دريځ کې دى. تاپي پروژه، کاسازر (د نورى فايبرپروژه) او دريل پټلۍ پروژه ددې ډول منطقوي همکارۍ غوره مثالونه دي. افغانستان کولاى شى له خپل ستراتيژيک موقعيت څخه په استفادى د مرکزي آسيا او جنوبي آسيا ترمنځ د يوه پله حيثيت ترلاسه او د تجارت په څلورلارې بدل شي. افغانستان ډير پخوا هم کله د وريښمو د لارې پر سر پروت و او کله يې د لاجوردو د لارې مهمه برخه جوړوله. اوس چې يو ځل دا امکان برابر شوى دى چې مرکزي آسيا له جنوبي آسيا سره وصل شى، د افغانستان لپاره يو ډير غوره فرصت دى. د افغانستان مهم دريځ ته په ترکيه کې (د آسيا زړه) په کنفرانس کې د شانګهاى د سرمشريزى په غونډه کې او په ۲۰۱۲ م. کال کې د عشق آباد د نړيوال ترانزيت په غونډه کې دې مهمې موضوع ته اشاره وشوه. د سيمې هېوادونو په تيره بيا تاجکستان، چين، ترکمنستان، هند او ازبکستان کلک ليوال دي چې د افغانستان له لارې خپل منځي سوداګري پياوړې کړي. د چين هېواد ته، افغانستان له اقتصادي او ترانزيتي اړخه ډير اوچت ارزښت لري. له بلې خوا دا به افغانستان لپاره يو ډير غوره فرصت وي چې د سيمې د هېوادو له علاقمنديو څخه او د ECO, SCO, WTO[5] او SAARC په سازمانونو کې د غړيتوب په لرلو خپل اقتصاد ته پرمختيا ورکړي. په نړيوال تجارت او اقتصاد کې ورګډيدل په اوسني لړ کې خپل اقتصادي دريځ پياوړي کول د اوسني عصر يوه تازه او نوې غوښتنه ده. هيڅ هېواد له نړيوال اقتصادي کاروان څخه په انزوا کې نشې پاتې کيداى. له بده مرغه افغانستان له نن څخه ۱۳۰ کاله مخکې له خپلو طبيعي سرحداتو څخه محروم او د استعماري ځواک له استعماري تصميم سره سم يې يوه برخه جلا او له نړيوالو اوبو سره يې اړيکه پرې او په وچه پورې په يوه ايسار هېواد باندې بدل شو. دا هغه وخت و چې د نړۍ د تجارت

---

[2] **Economic Cooperation Organization**

[3] **Shanghai Cooperation Organization**


[4] **South Asian Association for Regional Cooperation**

[5] **World Trade Organization**

(c) ketabton.com: The Digital Library



مخه، له وچې څخه د سمندر خواته شوه او اتلانتيک د سوداګرۍ لاره شوه. افغانستان چې وچې پورې ايسار او د نړيوال تجارت څخه ګوښه شوی و، اوس بېرته د پاملرنې مرکزي نقطه وګرځېده(دوديال، ۲۰۱۹:م م. ۲-۵).




1.نقشه د نړۍ د مختلفو هېوادونو سره د افغانستان ترانزيتي لارې

https://www.google.com/search?biw=1600&bih

## دسيمې له هېوادونو سره د افغانستان مهمې پروژې او هوکړه ليکونه

أ. د تاپي پروژه

دا پايپ لاين يا نل ليکه ۱۸ سوه کلومتره اوږدوالی لري. له ترکمنستان نه د افغانستان د هرات او کندهار له لارې او بيا د پاکستان د کوټې او ملتان څخه هندي پنجاب ته غځول کېږي. دغه نل ليکه به يو کال کې د ۳۳ ميلياره کيوبک متره غاز د انتقال وړتيا لري. که د سيمې په کچه اقتصادي ګټې شريکې شي، د سياسي ناندريو په لرې کولو کې هم مرسته کولی شي. هر کال به پاکستان افغانستان ته د ټرانزيت په برخه کې سلګونه ميليونه ډالره ورکوي.افغانستان به هر کال د صفر اعشاريه ۲ ميليارده متر مکعب غازو څخه برخمن کېږي. او په هغو سيمو کې چې دغه نل ليکه تېرېږي وګړو ته د کار زمينه برابره وي. د تاپي پروژه نه يوازې افغانستان بلکې د سيمې ټول هېوادونه له اقتصادي ګټو برخمن کوي. ترکمنستان اوس مهال ۳۵ ميلياردە متره مکعب غاز په چين پلوري خو چين دغه غاز له ترکمنستان نه په ټيټه بيه اخلي، له همدې امله ترکمنستان غواړي پر چين تکيه کمه کړي چې وکولی شي خپل غاز په مناسبه بيه وپلوري. هغه سيمې چې دا نل ليکه به ورڅخه تېرېږي، هلته به کاروبار وغوړېږي. هټۍ، هو ټلونه او بازارونه به جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي،ډېرځايي وګړي به د نل ليکي د ساتنې په موخه په دندو وګمارل شي او ډير وګړي به په بېلابېلو دندو کې مصروف شي (پسرلی، ۲۰۱۲:م ۴).

## دافغانستان لپاره دتاپي پروژې ارزښت

- ۴۰۰ ميليونه ډالره کلنی حق العبور
- زرګونه کاري فرصتونه
- د برېښنا فرعي سټيشنونه
- اقتصادي وده
- دحکومت دعوايدو ډيروالی
- دصنايعو پراختيا
- دصنعتي حرارتي برېښنا توليد
- په سيمه کې دافغانستان د جيوپوليټيک موقعيت تثبيت
- https://www.bbc.com/pashto/world/2015/12/151216_importance_tapi_r

د تاپي پروژه په لومړيو کې يوازې د ګازو د نل ليکي پورې ځانګړې کيده اما په اوس وخت کې په يو پرمختللي اقتصادي پروژه بدله شوې چې ددې پروژې سره سره پاکستان ته برېښنا ، فايبر نوري او اورګاډي پټلۍ چې ترکمنستان به له پاکستان سره وتړي، هم سرته ورسيږي (رياست مطبوعات/ معاونيت ارتباط استراتيژيک و رسانه ها، ۱۳۹۷:م ۵۳).




نقشه: د ترکمنستان ، افغانستان، پاکستان او هندوستان ترمنځ د تاپي مهمه اقتصادي پروژه


https://www.google.com/search?biw=1600&bih=708&tbm=isch&s

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ب. کاسا زر

د" کاسا۱۰۰۰" پروژه له ترکمنستان، قرغزستان او تاجکستان هېوادونو څخه د افغانستان له لارې پاکستان ته د برېښنا د انرژۍ د لېږد پروژه ده چې پر بنسټ به يې ۱۳۰۰ ميګاواټه برېښنا دافغانستان او تاجکستان له لارې، پاکستان ته ولېږدول شي. دخپرو شوو راپورونو په اساس به لدې څخه ۳۰۰ ميګاواټه برېښنا افغانستان به ارزانه بيه واخلي او پاتې ۱۰۰۰ ميګاواټه به پاکستان ته انتقال شي چې دچارواکو په وينا ددې پروژې په عملي کېدو سره به افغانستان ته په کال کې **۴۵** ميليونه ډالره د ترانزيټ حق ورکول کېږي (امين، ۲۰۱۲:م **۵** ).




**۳**ـ نقشه:ترکمنستان، قرغزستان، تاجکستان او د افغانستان له لارې پاکستان ته د کاسا۱۰۰۰ پروژه

https://www.google.com/search?biw=1600&bih=708&tbm=isch&sa

## ج. لاجوردو لار

د لاجوردو مسير چې افغانستان د ترکمنستان، اذربايجان او ګرجستان له لارې له اروپا سره نښلوي د افغانستان لپاره د پام وړ اقتصادي او تاريخي ارزښت لري. دغه لاره به له يوې خوا د ورېښمو د لرغوني لارې لرغوني ټرانزيټي مسير يو ځل بيا راژوندی او له بل پلوه به افغانستان د اروپا ، منځنۍ ختيز او سويلي اسيا ترمنځ د اړيکې يوې مهمې کړۍ حيثيت پيدا کړي، چې د ټرانزيټ له درکه به هر کال په ميليونونو ډالر عوايد د افغانستان په برخه شي. دغه لار به د افغانستان، ترکمنستان، اذربايجان او ګرجستان لپاره نه يوازې ټرانزيټي لاره وي چې سوداګريزه راکړه ورکړه په کې ترسره کېږي، بلکې د منځنۍ اسيا هېوادونه غواړي چې د دې لارې په اوږدو کې پر نورو لويو زېربنايي پروژو پانګونه وکړي. د افغانستان اسلامي جمهوريت، ترکمنستان، آذربايجان، ګرجستان او ترکيې ترمنځ د لاجوردو لارې پنځه اړخيزه ترانسپورټي، سوداګريز او ترانزيټي هوکړه ليک، چې د سوداګريزې راکړې ورکړې او ترانسپورټي انزوا د له منځه تلو لامل ګرځي. (د ستراتيژيکو اړيکو او رسنيو معاونيت، ۱۳۹۸:م م. **۱۵ـ۱۴**)

(c) ketabton.com: The Digital Library






**۴**.نقشه: په سیمه کې د لاجوردو مهمه ترانزیتي او اقتصادي لار


https://www.google.com/search?biw=1600&bih

د. د وریښمو لار

افغانستان له پخوا په یوه مهمه څلور لاره کې پروت دی چې د وریښمو لار ورڅخه تېریدله. د وریښمو لویه لاره د ختیز، لویدیځ، شمال او جنوب ترمنځ پرته ده او د ډېرو غرونو، دښتو، جلگو او سیندونو له لارې تیریږي. ډېر نامتو وگړي پلي یا سپاره په دې لاره تېر شوي دي او ددې هېواد د تاریخ په جوړولو کې یې خپله ونډه اخستې ده. په دې وگړو کې لوی پاچایان او امیران هم د یادولو وړ دي لکه: د مقدوني پاچا سکندر،له مغولستان څخه چنگیز، له منځنۍ آسیا څخه گوډ تیمور او بابر اوداسې نور یادولی شو. ډېر شمېر زړورو سیاحانو لکه فاهیان، هوان سانگ، چینایي بودایي راهبانو، کوریایي بودایي راهب هوی چو، مراکشي جغرافیه پوه ابن بطوطه او د وینس نامتو سوداگر مارکوپولو د افغانستان په لاره کې اوږده سفرونه کړي (الن،۲۰۰۱:م.۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library






۵-نقشه: د ورېښمو تاريخي او ترانزيتي لار

https://www.google.com/search?q=%D9%


ه.   چاه بهار بندر

اوس په سيمه کې داسې يوه اړتيا او فکر رامنځته شوی چې د مرکزي آسيا هېوادونه له جنوبي آسيا سره تجارتي اړيکې ولري او دغه سوداګري به د سمندر له لارې ارزانه او په لوی حجم ترسره کيږي، دا ځکه چې سمندري ترانزيت وسايل د وچې په پرتله د ډيرو محمولو (پېټيو ) ګنجايش لري. د چابهار بندر د ايران په سيستان او بلوچستان ولايت کې، چې د ايران جنوب ختيز لورې ته پروت دی، موقعيت لري. دا بندر اوبو ته د افغانستان د سيده او د هند لپاره د افغانستان او ايران له لارې د منځنۍ اسيا هېوادونو ته د لاسرسي لپاره خورا ډېر ستراتيژيک ارزښت لري. له چابهار بندر څخه د افغانستان د سرحدي ولايت نيمروز تر مرکز زرنج پورې ۸۸۳ کيلو متره لاره ده. په ۲۰۰۹ زېږديز کال کې له زرنج تر دلارام پورې سړک د هند د سرحدي سړکونو د ادارې له خوا ورغول شو. دا سړک د افغانستان څلورو مهمو ولايتونو هرات، کندهار، کابل او بلخ ته د رسېدو غوره لاره بلل کېدای شي. دغه راز چابهار بندر د مرکزي اسيا هېوادونو لپاره د هند سمندرګي ته د لاسرسي موندلو  تر ټولو غوره لاره ده. د دې لپاره به د ايران او افغانستان له لارې د ۷۲۰۰ کيلو مترو په واټن له شماله د جنوب پر لور دهلېز جوړېږي او تر څنګ به يې هندوستان وکولای شي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library



پراخه توګه د منځنۍ اسیا پنځو مارکېټونو، روسیې او په نهایت کې اروپا ته لاره پیدا کړي (متقي و همکاران، ۱۳۹۷:م ۲۲).




۲ـنقشه: د چابهار بندر

https://www.google.com/search?biw=1600&bi

## مناقشه

افغانستان تقریبا نسبتا پرمختیایي هېواد دی، چې د اقتصاد له پلوه ډېر وروسته پاتې دی. دغه اقتصادي وروسته پاتې والی، د دغه هېواد وګړي له راز راز ټولنیزو ستونزو لکه بیکاري، نفاق، اعتیاد، مهاجرتونو، جنګونو، تعصباتو، ناروغیو، بیسوادي ،فساد او دې ته ورته بد مرغیو سره مخامخ کړی دی. له نیکه مرغه اوس دغه هېواد د خپل ډېر مهم جیوپولیټیک او جیواکونومیک موقعیت، طبیعي قیمتي زیرمو، غوره اقلیم او د یو شمیر محصولاتو د تولید په مطلق ګټې باندې فکر کوي او د خپل اقتصاد د غوره کیدو او پرمختګ لار هواروي. له دې امله چې په وچه کې پروت هېواد دی، خو غواړي چې اوبو ته لار ومومي او لکه د پرمختللو هېوادو په شان ځان د تجارت نړیوال مسیر ته ورګډ کړي. د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره یې د وچې پنځو بندرونو، د اوسپنې د سیمه ییزې پټلۍ شبکې، سیمه ییزو اقتصادي سازمانونو، نړدې تجارتی بنددرونو او ترځمکې لاندې منابعو په اړه فکر وکړ. د تاپي پروژه، کاسازر، چا بهار او د سوداګرۍ دهوايي دهلیزونو ترڅنګ یې د لاجوردو د لارې په پرانیستو هم اقدام وکړ. د افغانستان حکومت د اقتصادي برنامې په ترڅ کې د متحده عربي اماراتو د ۲۰۰ میلیون ډالرو مرسته د افغانستان د پنځو بندرونو جوړولو ته په پام کې ونیوله. د (ریکا) او (د اسیا زړه) په کنفرانسونو کې یې د سیمې هېوادونه دې ته وهڅول چې د یوه منطقوي اقتصاد په رامنځ ته کولو سره د سیمې دهېوادونو تر منځ د ګډ تفاهم او مرستو زمینه برابره کړي. په دې لړکې یو هم د افغانستان له لارې د جنوبي او مرکزي آسیا ترل دي. اوس د دغه پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر پلي کېدو ته لار هواره شوې ده. دغه ټول مثالونه دافغانستنان ځوان نسل ته د امیدوارۍ غوره خبرونه دي. افغانستان اوس د خپلو کانونو، د اوبو سرچینو او لویو لارو لپاره د بل هر وخت په پرتله یوه سنجول شوی ستراتیژي جوړه کړې ده. په وچه کې د ایسار والي لوی ستونزي ته د حل یوه غوره او ګټوره طرح د وچې پنځه بندورنه دي، چې د مرکزي او جنوبي آسیا هېوادونو یې هرکلی کړی دی. له نن څخه تقریباً دوه زره کاله مخکې له همدې مسیر څخه د وریښمو لویه او مشهوره سوداګریزه لار تیریده چې افغانستان یې د تګلوري یوه برخه وه. هغه مهال افغانستان د بیلابیلو تاریخي تمدنونو د تقاطع نقطه او د لویو کاروانسرایونو، لوړ صنعت او غوړیدلی فرهنګ لرونکی هېواد و. د دغې لارې په فعاله کیدو سره د شریکو هېوادو تجارت او اقتصاد کې ژور مثبت بدلون او د سیاسی اړیکو نږدې کیدل او د فرهنګي اړیکو تقویه کیدل پیاوړتیا مومي. د دغې نښلوونکي لارې په واسطه به څلور نیم میلیارده وګړي یو بل سره دوستانه اړیکې پیدا کړي. افغانستان له دې لارې ډیرې ګټې ترلاسه کوي. د دې ترڅنګ زموږ په سیمه کی د وریښمو د لارې او د چین- پاکستان د اقتصادي دهلیز زیربنایي پروژې هم پیل شوي دي، چې یوه بل تقویه کوي. تر دې مخکې د چابهار بندر هم د افغانستان لپاره یوه لاسته راوړنه وه چې د ایران، افغانستان او هند په توافق کار وربا ندی وشو. دغه زیر بنایي  سترې پروژې د افغانستان ځوان نسل ته غوره زیری دی. افغانستان به وتوانیږی یو ځل بیا خپل پرتم ترلاسه او له اقتصادي پلوه به پرځان بسیا شي.

## پایله

افغانستان په اسیا کې د وریښمو د لارې پر سر پروت او د سیمې د هېوادونو او ځبرځواکونو د سیاسي غوښتنو دیوې ځلورلارې حیثیت لري، چې پخواني شوروي اتحاد له ړنګېدو وروسته یې جیوپولېټیک ارزښت نور هم زیات شوی دی او اوسمهال د کسپین سمندرګي چاپېریال د شوروي خپلواک جمهوریتونو او دهندو پاکستان تر منځ یې له شماله جنوب ته د ځمکني ترانزیتي لارې په توګه یو ځانګړی موقف خپل کړی دی. د افغانستان جغرافیایې موقعیت ډېر یو ځانګړی اړخ لري، ځکه چې یو اړخ ته یې د سابقه شوروي پنځه هغه جمهوریتونه (تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، قرغیزستان او قزاقستان) سره چې ډېره غوره ترانزیتي سیمه ده، چې له دریو جمهوریتونو سره خو افغانستان ګډه پوله هم لري. دغه هېوادونه د نړۍ په کچه د تېلو ډېرې لوې زېرمې او طبیعي شتمني لري، چې یو پلو ته یې د روسې بازار پروت دی او بل پلو ته یې د هند د بحر تودې اوبه او د پاکستان، هندو-چین تجارتي بازار. ځکه نو افغانستان یو ډېر ځانګړی جغرافیایي موقعیت لري، چې د اسیا نور هېوادونه د داسې یو موقعیت خوبونه ویني.

افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت پر بنسټ د منځنۍ اسیا تر ټولو ارزښتمن ټاټوبی ګڼل شویدی. خو ددې موقعیت ارزښت هغه وخت لا زیات شوی چې د مېشتو اولسونو په مرسته، د ځواکمن او پیاوړی دولت تر واکمنۍ لاندې راغلل. د تاریخ پاڼې دا مطلب بیله شکه تائیدوي چې په افغانستان کې سیاسي ثبات او پیاوړی ولسي واکمني د سیمې او نړۍ لپاره د سولې او ډاډمنې ودې همیشنی پیغام لرلی دی. که افغانستان وغواړي چې د خپل ستراتیژیک، جغرافیوي، جیوپولیټیک او جیواکونومیک موقعیت څخه سمه ګټه واخلي، نو د اړوندو مسئلو لپاره لکه: په هېواد کې سولې او ثبات، ښې حکومتولۍ او د خپلو ترانزیتي زیربناوو د سمې ودې لپاره باید یو منظم

(c) ketabton.com: The Digital Library



لرلید رامنځته کړي. دې لرلید ته د رسیدو لپاره ټاکلې پالیسي ګانې، اړینې کړنلارې رامنځته او په رښتینولۍ سره یې پلې کړي. د دې لپاره په هېواد کې ثبات او سوله کلیدي او مهم عناصر دي او که څوک په هېواد کې ښیرازي، غوره نظام، رښتینې خپلواکي او سوکالي غواړي نو په ګډه او په ملي عزم دې ورته کار وکړي.

## ماخذونه


۱. امین، عبدالباقي. (۲۰۱۲) په افغانستان کې د انرژۍ وضعیت، تېوتاپ او کاسا زر پروژې. د ستراتیژیکو او سیمه ایېزو څېړنو مرکز.
۲. الن، جان.(۲۰۰۱) خپل هېواد وپېژنئ. ژباړن. احمد تکل.افغان نشراتي اداره (انا).
۳. باوری،رسول.(      ) لرغوني افغانستان او د وریښمو تاریخي لار.افغان جرمن انلاین خپرندویه ټولنه.
۴. پسرلی،صیام الدین. (۲۱۰۲) تحقق پروژه تاپی، امیدی برای توسعه اقتصادی کشور.اتاق تجارت و صنایع افغانستان.
۵. پیشگاهی فرد ،زهرا و رحیمی، سردار محمد.(۱۳۸۷) جایگاه افغانستان در ژئواستراتژي نظام نوین جهانی.نشریه تحقیقات کاربردی علوم جغرافیایی،ج ۸، ش ۱۱.
۶. تڼیوال، محمدظریف. (۱۳۹۱) د افغانستان عمومي جغرافیه.جلال اباد:عبدالمجید مومند کتاب پلورنځی.
۷. خل، سید نورالله. (۱۳۹۰) د افغانستان پېژندنې لنډه لاره.جلال اباد:مومند خپرندویه ټولنه
۸. د استراتیژیکو اړیکو او رسنیو معاونیت. (۱۳۹۲) د ملي وحدت حکومت درې کلنو لاسته راوړنو ته لنډه کتنه. د جمهوري ریاست عالي مقام دفتر لوی ریاست.
۹. دودیال، محمدبشیر. (۲۰۱۹) سیمه ییز اقتصاد ، اړتیا او له دې پلوه په سیمه کې د افغانستان دریځ. آریانا افغانستان آنلاین.
۱۰. ریاست مطبوعات/ معاونیت ارتباط استراتیژیک و رسانه ها.(۱۳۹۷) نگاهی به دستاوردهای حکومت وحدت ملی. انتشارات: ریاست عمومی دفتر مقام عالی ریاست جمهوری.
۱۱. عارض، غلام جیلاني. (۱۳۸۰) د افغانستان لویې لارې. ژباړن. نور محمد سهیم. پېښور: د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره.
۱۲. عظیمي، محمد عظیم(۱۳۹۰) افغانستان و نقاط شگفت انگیز آن.انتشارات بین المللی الهدی.
۱۳. فرهادي، روان. (۲۰۰۱) افغانستان چهار راه آسیا. پشاور:بنیاد انتشارات جهانی.
۱۴. متقی،عبدالقدیر و همکاران. (۱۳۹۷) تحلیل استراتژیک بندر چابهار. انستیتوت مطالعات استراتژیک افغانستان.
۱۵. نیازی، محمدداود(۱۳۹۷). د افغانستان ترانزیټ.کابل: سوله خپرندویه ټولنه.
۱۶. وثوقی، سعید و همکاران.(۱۳۹۰) تبیین جایگاه افغانستان به عنوان کانون چند زیر سیستم منطقه ای با تاکید بر منطقه اسیای جنوبي و نقش هندوستان. آسیای مرکزی و قفقاز شماره ۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنیار مظلوم یار دغه علمي مقاله د ننګرهار پوهنتون د پوهې مجلې د درې میاشتنۍ خپرونې د ۱۳۹۹ کال دویمه ګڼې په ۳۷ پاڼې کې خپره شوې.

Faculty of Education

Department of Geography

Assist. Prof. Fayaz Gul Mazloum Yar

Contact: 0789191058

**Geo-political and geo-economical Location of Afghanistan in the Region**

**Abstract:**

Afghanistan has a greater geographical magnitude and history. It is considered the commercial and emigrational way between east and west and also of southern and central Asia.

On Afghanistan axis; through regional connective projects' development, we can call Istanbul procedure and Rica economical diplomacy a framework achievement. Some of them are as follow. The three-dimensional treaty-letter on the development of Chabahar boarder amongst Afghanistan, Iran, and India, Lajeward's (Azure stone) route developmental agreement, railroad bed projects among three countries (Turkmenistan, Afghanistan, and Tajikistan), inauguration and primary process completion of Atta Murad Railroad bed, TAPI, KASAZR, digital silks' lobby, carriage of five hundred kilowatt power by TAPI and other regional connective projects are its vivid examples. Furthermore, we can say that Afghanistan is being called the connective point of Asia, which links southern Asia with central Asia and eastern Asia with western Asia. Overall, it connects most of the Asian countries with Europe. These are what that demonstrates the geo-economical and geopolitical value and location of Afghanistan in the region. This article is based on description and library form, which contains information from diverse sources, such as different articles, various books and different internet sites. It is being focused in the article that how Afghanistan can utilize its distinctive geographical location and as an Asian intersection how can it discover it's geo-economic and geopolitical significance and exploit this status.

Keywords:

Afghanistan, Central Asia, Transit, Geo-Politics and Geo-Economics

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**